ما مِنْ أحَدٍ يُسلِّمُ علي إلا ردَّ اللهُ عليَّ رُوحي حتى أردَّ عليه السَّلامَ». «هېڅوک پر ما سلام نه اچوي مګر دا چې الله تعالى ماته زما روح راګرځوي چې زه ورته ځواب ورکړم

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «ما مِنْ أحَدٍ يُسلِّمُ علي إلا ردَّ اللهُ عليَّ رُوحي حتى أردَّ عليه السَّلامَ». «هېڅوک پر ما سلام نه اچوي مګر دا چې الله تعالى ماته زما روح راګرځوي چې زه ورته ځواب ورکړم».

[سند يې حسن دى] [ابو داود او احمد روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هغه ته يې روح بېرته ورګرځول کېږي چې هر هغه چا ته ځواب ورکړي چې سلام يې پرې اچولى دى؛ برابره خبره ده که هغه شخص لرې وي يا نږدې؛ نو د برزخ ژوند يوه غيبي چاره ده چې په حقيقت يې يوازې يو الله پوهېږي، او هغه پر هر څه قادر دى.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6222